آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۶/۱۹

# او هجرت پای نه لري

دا دی پیری واوښتي

دا دی نسلونه یو په بل پسې زلمي شول او زاړه شول او زړیږي پسې

خو هجرتونه لا روان دي او زیاتیږي پسې

زموږ د کلي مرغی لاړي مهاجرې شولې

زموږ د کلي چنجیان

زموږ د کلي غنی

کوم ځای ته لړې لار وهلی نه شي

هم اوسیدلای نه شي

کور کې یې اور بل شوی

اور ته ورتللای نه شي

ځکه روان دي هجرتونه کوي

او هجرت پای نه لري

۰۰۰ ـ ماسکو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ